# د کوویډ-19 د انقضاء له نېټې د تېرو شوو ټېسټونو تکراري پوښتل شوې پوښتنې

**تر دې دمه پورې خپل د کوویډ-19 د انقضاء له نېټې تېر شوي ټېسټونه مه غورځوئ. دلته په دې اړه د پوهېدو هغه لارې چارې ذکر شوې دي چې آیا ستاسو د کوویډ-19 د ټېسټ وسایل په قوطي باندې د لیکل شوې اعتبار مودې له پای ته رسېدو وروسته هم ګټور دي او که نه.**

## آیا زه د کوویډ-19 تر وخت تېر شوي د ټېسټ وسایل کارولای شم؟

هو. د Washington State Department of Health (DOH)، د واشنګټن آیالت د روغتیا ډیپارټمنټ) [د ټېسټونو تر وخت تېر شوو وسایلو د کارولو لپاره رسمي اجازه] په هغه صورت کې ورکړې (په انګلیسي ژبه) تر هغه چې د کیفیت له کنټرول څخه تیر شي، چې موږ یې په لاندې ډول تشریح کوو.

سربېره پر دې، د کوویډ-19 د ټېسټونو یو شمېر وسایل د U.S. Food and Drug Administration (FDA، د آمریکا متحده آیالتونو د خوړو او درملو اداره) لخوا د اعتبار د مودې غځېدنه ترلاسه کوي چې دغه چاره د ټېسټونو د وسایلو پر قوطي باندې له لیکل شوې نېټې پرته د اعتبار پای ته رسېدو نوې نېټه ورکوي. تاسو کولای شئ د [FDA لخوا د ټېسټ د هغو وسایلو لېست چې عمر یې غځېدلی (په انګلیسي او هسپانوي) ژبو وپلټئ،] ترڅو وګورئ چې د ټېسټ کوم وسایل د اعتبار پای ته رسېدو اپډېټ شوې نېټه لري. حتی که چېرې د ټېسټ وسایل د اعتباري مودې داسې اپډېټ شوې نېټه ولري چې اوس یې وخت تیر شوی وي، د روغتیا ډیپارټمنټ (DOH) له مخې د کیفیت له کنټرول څخه د تیرېدو په صورت کې کولای شئ کار ترې واخلئ.

مهم ټکی: تر هغه وخت پورې چې د ټېسټ وسایل د کیفیت تر داخلي کنټرول تیر شي، تاسو کولای شئ د ټېسټ لپاره له هغو وسایلو کار واخلئ چې د اعتبار موده یې پای ته رسېدلې وي.

## څه ډول کولای شم پوه شم چې د کوویډ-19 د ټېسټ تر وخت تیر وسایل ما ته سمه پایله په لاس راکوي؟

ستاسو د کوویډ-19 د ټېسټ وسایل به په سم ډول د ټېسټ د پایلو د ترلاسه کولو په موخه له یو شمېر لارښوونو سره وړاندې کېږي چې د کیفیت کنټرول هم ورته ویل کیږي. تاسو معمولا د کیفیت د کنټرول پروسې په اړه معلومات د ټېسټ د لارښوونې په پاڼه کې د ټېسټ د پایلې په برخه کې موندلی شئ. په کور کې د ډیری ټېسټونو لپاره د کیفیت کنټرول پروسه په ساده ډول ددې څخه ډاډ ترلاسه کوي چې د ټېسټ په کارتریج کې چاپ شوې "C" توري ته نږدې کله چې په هغې باندې نمونه واخنیستل شي یوه کرښه ځرګندیږي. که د کیفیت د کنټرول پروسه ناکامه شي، تاسو باید د ټېسټ د وسیلې له کارولو ډډه وکړئ.

## څه ډول د ټېسټ وسایل د اعتبار پراخه شوې موده ترلاسه کوي؟

د کوویډ-19 د ټېسټ د وسایلو تولیدوونکي اړګنل کیږي چې یو شمېر څېړنې ترسره کړي چې په هغې کې به د ټېسټ د وسیلې د اعتبار مودې په اړه پلټنې ترسره کیږي. FDA دا معلومات څاري څو د اعتبار د پای ته رسېدو اوږدمهاله نېټه تایید کړي. د کوویډ-19 د ټېسټ د وسایلو د اعتبار اوږدمهاله نېټه یوه عادي پروسه ده او هر څومره چې زیات معلومات ترلاسه شي په هماغه کچه اعتبار موده غځیږي.

موږ هیله لرو چې دا معلوماتو تاسو ته د ټېسټ د هغو وسایلو د کارولو پر مهال چې پر قوطي باندې د اعتبار د لیکل شوې نېټې له مخې تر وخت تېر معلومېږي، ډاډ درکړي. اوس تاسو پوهیږئ د کوویډ-19 د ټېسټ لپاره وسایلو د کارولو د ښه والي په اړه د پوهېدو لپاره څه ترسره کړئ: ساده خبره ده. د کیفیت د کنټرول لپاره د ټېسټ لارښوونې وڅارئ. که د ټېسټ وسیله د کیفیت تر کنټرول تیریږي، هغه اوس هم د کارولو لپاره خوندي او ښه ده.

له تاسو د ټولو هغو کارونو په پار مننه چې زموږ د ټولنې د خوندیتوب او سالم والي لپاره یې ترسره کوئ!

په بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتلو لپاره له 0127 -525 -800-1 شمېرې سره اړیکه ونیسئ. کاڼه او هغه پیرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، په مهربانۍ سره 711 (Washington Relay) ته زنګ وهئ یا civil.rights@doh.wa.gov ته برېښنالیک واستوئ.

DOH 421-037 February 2023 Pashto